# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**27جدی _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


در سیزد همین نشست کابینه، موضوع کار و اسکان مهاجرین برگشت کننده مورد بحث قرار گرفت ------------------1
د هېواد په پولو کې؛ له پاکستان څخه تر سلو زیاتي راستنېدونکي کورنی له لومړنیو مرستو برخمني شوې -----------1
صد ها مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود ------------------------------------------------------------2
آمر جدید امور مهاجرین ولایت نورستان معرفی شد------------------------------------------------------------2
د روسيي او فنلنډ پر پوله زرګونه کډوال راټول شوي -----------------------------------------------------------3
۲۰۲۳ :سلوانیا کې د کډوالو شمېر دوه چنده شوی ------------------------------------------------------------5
کشتی نجات «سی آی» به مکانی برای تامل و یادگیری در نورنبرگ تبدیل می شود-----------------------------------7
بازداشت 99 مهاجر افغان از سوی پولیس ترکیه -----------------------------------------------------------8
نجات 726 مهاجر از دست قاچاقچیان انسان در مکزیک-----------------------------------------------------9
726مهاجر از جمله 75 کودک توسط نیروهای امنیتی نجات یافته و 4 قاچاقچی انسان بازداشت شدند ---- 9


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## در سیزد همین نشست کابینه، موضوع کار و اسکان مهاجرین برگشت کننده مورد بحث قرار گرفت

ویب سایت وزارت

**سیزد همین نشست کابینه امارت اسلامی افغانستان، به رهبری الحاج ملا محمد حسن آخوند، رییس الوزراء بتاریخ ۲۵ جدی برگزار و در آن تعدادی از موضوعات مورد بحث و بررسی قرار گرفته و تصمیماتی اتخاذ شد.**

**این جلسه با تلاوت قرآن کریم آغاز شد، رسیدگی به مشکلات کاری، اسکان و سایر مشکلات مهاجرین تازه بازگشته و اتخاذ تدابیر جدی برای رفع آنها به کمیسیون عالی امور مهاجرین واگذار شد.**

## د هېواد په پولو کې؛ له پاکستان څخه تر سلو زیاتې راستنېدونکې کورنۍ له لومړنیو مرستو برخمنې شوې

د وزارت ویب سایت

**د ننګرهار، کندهار، نیمروز، هرات، کابل او پکتیکا ولایتونو په پولو کې پرون مرغومي ۲۵ مه له پاکستان څخه ۱۰۷ کورنۍ چې ۳۴۱ تنه کېږي د ګومارل شوو کمېټو له خدمتونو څخه برخمنې شوې.**

**د ننګرهار ولایت له تورخم پولې څخه ۳۸ کورنۍ چې ۸۱ تنه کېږي راستنې او د کمېټې له خوا ثبت او بایومتریک شوې، ۲۱ کورنیو سره ۱۰ زره افغانۍ نغدي مرسته وشوه، د ۳۶ کسانو په ګډون ۶ کورنۍ ننګرهار، کونړ، لغمان او کابل ته د تګ لپاره هرې کورنۍ ته زر زر افغانۍ ورکړل شوې او ۲۸ کورنۍ موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې.**

**په عمري کمپ کې ۶۸۰ کځوړې چمتو شوي خوراکي توکي، ۶۰ زره لیتره پاکې اوبه، کمپلې، غالۍ، ګاز ډبې او ۲۰ کځوړې خام خوراکي توکي او ۸۲ سیمکارتونه ووېشل شول او ۱۳۳ تنه چې مسلکي او حرفوي اسناد یې درلودل کمیټې سره ثبت شول**

**۲۹۴ ماشومانو ته چاودیدونکو توکو څخه د ساتنې، پاکۍ او عامه پوهاوي په برخه کې معلومات ورکړل شول او همدارنګه د رواني روغتیا په موخه ماشومانو ته د لوبو او تفریح پروګرامونه جوړ شول او ۴ ماشومان چې پخوا بې کوره شوي وو ،خپلو کورنیو ته وسپارل شول.**

**د جوماتونو او پوهنې د تنظیم کمیټې له خواد ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست په همکارۍ ۳۸ زده کوونکو سره د زده کړو د دوام، د نوم لیکنې د طرزالعمل او په ښوونیزو مرکزونو کې د ورته اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه مرسته وشوه.**

**یاده کمېټه وایي، هغه کډوال چې د تورخم له لارې خپل هېواد ته راستنیږي او د اولادونو زده کړې یې نیمګړې وي، د لومړنیو پړاوونو له تېرولو وروسته په رسمي ډول خپلو ولایتونو ته د زده کړو د بشپړولو په موخه ورپېژندل کیږي.**

**د اطلاعاتو او عامه پوهاوي کمیټې مهاجرینو ته د نوم لیکنې، انتقال، مالي مرستو، لنډ مهاله استوګنې او د هیواد او اسلامي نظام پیژندنې مهاجرت، صبر او تعلیم په اړه ګټور معلومات وړاندې کړل.**

**دغه راز راستنېدونکو ته دننګرهار ولایت د آمر بالمعروف او نهی عن المنکر د محتسبینو له لوري دبېلابېلو برخو په اړه معلومات ورکړل شول او د مهاجرت نړیوال سازمان په همغږۍ ورته د مهاجرت ۲۵ ډوله فورمې ووېشل شوې.**

**دغه راز د کندهار ولایت د سپین بولدک له پولې څخه د ۱۰۵ تنو په ګډون ۲٤ کورنۍ خپل هېواد ته راستنې او ثبت شوې، ۳۲ کورنۍ په موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، ۲٤ کورنیو هرې یوې ته لس زره افغانۍ، ۵۵۰ کځوړې خوراکي توکي او د څښاک اوبه ووېشل شوې، ۲۸۰ کسانو درملنه وشوه ۵۲۸ کسانو ته د روغتیا په اړه معلومات ورکړل**



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

شول، خیمې، کمپلې او ۱۰۴ سیمکارتونه وویشل شول او ۶۷ تنه چې مسلکي اسناد يې درلودل کاري کميټې سره ثبت شول.

۴۵ ماشومانو ته چاودېدونکو توکو څخه د ساتنې، پاکوالي، او عامه پوهاوي په اړه معلومات ورکړل شول او ماشومانو ته د ذهني روغتیا په موخه د لوبو او تفریح پروګرامونه هم برابر شول.

د پکتیکا ولایت د انګورهډې سرحد کې ۲۷ ډوله خوراکي توکي او د څښاک پاکې ووېشل شوې، او د اطلاعاتو کمیټې لخوا د ثبت، ترانسپورت، مالي مرستو، لنډ مهاله استوګنې او د هېواد او اسلامي نظام پېژندنې، مهاجرت، صبر، ښوونې او روزنې په اړه ګټور معلومات وړاندې شول.

د نیمروز ولایت له ورشیمو څخه د ۱۵۵ کسانو په ګډون ۴۵ کورنۍ ثبت او یو زر ۲۴۳ مهاجرین راستانه شول، ۴۸ کورنۍ موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، ۵ کورنیو هرې یوې ته ۱۰ زره افغانۍ او ۳۹ ډوله سیمکارتونه ووېشل شول او ۱۴۸ کسانو ته عامې پوهاې ورکړل شو.

۱۵۵ تنو ته د نوم لیکنې، ترانسپورت، مالي مرستو، لنډ مهاله استوګنې او د هېواد او اسلامي نظام پېژندنې، کډوالۍ، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور معلومات ورکړل شول.

او هرات ولایت کې ۲۵ کورنۍ د بې ځایه شویو موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، کابل ولایت څخه ۲۵ تنو په ګډون ۸ کورنۍ د ترانسپورټ کمیټې لخوا کندز او بغلان ولایتونو ته انتقال شوې او ۲۲ زره او ۵۰۰ افغانۍ ورته د لارې کرایه ورکړل شوه.

## صد ها مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۳۲۱ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۵ جدی از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۳۸ خانواده که شامل ۲۱۲ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۲۴ خانواده که شامل ۱۰۹ تن و ۱ تن افراد آزاد شده از حبس از کشورپاکستان، ، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی، برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

## آمر جدید امور مهاجرین ولایت نورستان معرفی شد

ویب سایت وزارت



**مولوی شهاب الدین ثاقب، به حیث آمر جدید امور مهاجرین ولایت نورستان طی مراسمی به تاریخ ۲۵ جدی به کارمندان آن اداره معرفی شد.**

**در مراسمی که به همین مناسبت برگزارشده بود، شیخ شیر احمد حقانی، والی آن ولایت طی سخنرانی ضمن تبریکی شغل جدید به آقای ثاقب توفیقات مزید وی را در این راستا خواستار شد.**

**آمرجدید مهاجرین نورستان، نسبت به انجام مسئولیت محوله به خوبی و ارائه خدمات مطلوب اطمینان داد و افزود: مسئولیت سپرده شده را با کمال صداقت و هماهنگی کامل انجام خواهد داد .**

## د روسيي او فنلند پر پوله زرگونه کډوال راتول شوي

مهاجرنیوز



له تېرو څو اونیو راهیسې د روسیې او فنلنډ پر پوله زرګونه کډوال راتېول شوي دي. دا هغه کسان دي چې غواړي چې له روسیې څخه ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسوي. د روسیې او فنلنډ ترمنځ پوله د ۲۰۲۳ له نومبر راهیسې د خلکو د تګ راتګ پر مخ تړلې ده .

د فنلنډ او روسیې ترمنځ د وروستۍ لار له تړل کېدو راهیسې په دغه سرحدي سیمه کې له ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ کډوال راټول شوي دي. فنلنډي چارواکي روسیه په دې تورنوي چې د دغه هېواد د وضعیت د بې ثباتولو او پر اروپایي ټولنې د فشار اچولو په موخه له کډوالو څخه ناوړه ګټه پورته کوي. خو کرملین بیا دغه اعادوې ردوي.

لوموند ورځپاڼه لیکي چې ډېری دغه کسان له قانوني اسنادو سره روسیې ته ورغلي او ورپسې بیا د روسي پولیسو په مرسته د روسیې او فنلنډ ترمنځ سرحدي سیمې ته رسېدلي دي .فنلنډي چارواکو تېره اونۍ اعلان وکړ، د دغه هېواد پوله ساتو ځواکونو په پاریکالا کې ۴ کډوال نیولي چې غوښتل یې له اسنادو پرته فنلنډ ته واوړي.

دا هم ولولئ

<u>فنلنډ له روسیې سره پوله بېرته وتړله</u>




**د پناه غوښتونکو شمېر کې زیاتوالی**

**فنلنډي چارواکي وايي چې له تېر کال راهیسې د هغو کډوالو شمېر زیات شوی چې غواړي له روسیې څخه ځانونه فنلنډ ته رسوي. په وینا یې د ۲۰۲۳ له اګست څخه تر ډېسمبر پورې د عراق، یمن، سومالیا او سوریې شاوخوا ۱۰۰۰ کډوال پیاده او یا پر بایسکېل له روسیې څخه د فنلنډ خاورې ته داخل شوي دي .**

**فنلنډ له روسیې سره ۱۳۴۰ کیلومتره ګډه پوله لري. هلسېنکي په ۲۰۲۲ کې اعلان کړی و چې په پام کې لري چې له روسیې سره پر پوله سرحدي دېوال جوړ کړي. هغه وخت د فنلنډ حکومت ویلي وو غواړي د احتمالي کډوالو د راتګ د مخنیوي په موخه له روسیې سره پر پوله د خنډونو د جوړولو لپاره خپل سرحدي قوانینو کې بدلون رامنځ ته کړي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>د فنلنډ او روسیې پر پوله لسګونه کډوال بند پاتې دي</u>**

**د روسیې او فنلنډ ترمنځ د خنډونو د جوړېدو کار د ۲۰۲۳ په فبرورۍ کې پیل شو. د فنلنډي چارواکو په خبره دغه سرحدي دېوال ۳ متره لوړوالی او ۲۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري.**

## ۲۰۲۳ :سلوانیا کې د کډوالو شمېر دوه چنده شوی

مهاجرنیوز



**د سلوانيا چارواکي وايي چې په ۲۰۲۳ کې دغه هېواد کې د نيول شويو اسناد نه لرونکو کډوالو په شمېر کې د تېرو دوو کلونو په پرتله دوه چنده زياتوالی راغلی دی. د رسمي شمېرو له مخې تېر کال تر ۶۰ زره زيات کډوال سلوانيا ته دننه شوي چې ۳۰ سلنه يې افغانان دي.**

**د سلوانيا د امنيتي ځواکونو په خبره په ۲۰۲۳ کې تر ۶۰ زيات کډوال دغه هېواد ته اوښتي دي. دغه شمېرې د ۲۰۲۲ کال په پرتله (۳۲ زره کسان) ۸۹ سلنه زياتوالی ښيي.**

**ډېری دغه کډوال د کرواسي له لارې سلوانيا ته داخل شوي او ۳۰ سلنه يې افغانان، ۱۵ سلنه يې مراکشيان او ۹ سلنه يې پاکستانيان دي. په همدغه موده کې تر ۳۶۰۰ زيات روسان هم سلوانيا ته اوښتي دي چې دا شمېرې د ۲۰۲۲ په پرتله (۱۸۰۰ کسان) دوه چنده زياتوالی ښيي.**

**د سلوانيا چارواکي تېر کال د کډوالۍ د څپو د مخنيوي لپاره يو شمېر امنيتي تدابير ونيول او پر خپلو پولو کنټرول پيل کړ. دا اقدام د دې سبب شو چې کډوال اتريش ته د اوښتو لپاره نورې لارې وکاروي.**

**دا هم ولولئ**
**ايټاليا، سلوانيا او کرواسي د کډوالو د ورتګ د مخنيوي لپاره ګډې ګزمې پيل کړې**

**پر پولو کنټرول**

**کرواسي د ۲۰۲۳ په جنورۍ مياشت کې د شېنګن زون غړيتوب ترلاسه کړ. له هغه وخت راهيسې په دغه اروپايي هېواد کې د کډوالو شمېر ۴۰ سلنه زيات شوی دی.**

همدارنګه جرمني وايي چې د تېر کال په جريان کې دغه هېواد ته د اوښتونکو کډوالو شمېر کې زياتوالی راغلی دی. څو ورځې مخکې د جرمني د بهرنيانو ادارې بامف اعلان کړی و چې په ۲۰۲۳ کې د پناه غوښتنليکونو په شمېر کې ۵۱ سلنه ډېروالی رامنځته شوی دی.

د ۲۰۲۳ په ډېسمبر مياشت کې د اروپايي ټولنې ۲۷ غړو هېوادونو استازي او د اروپايي پارلمان وکيلان د اروپا د کډوالۍ پاليسۍ کې پر اصلاحاتو راوستو هوکړې ته ورسېدل .په دغه هوکړه ليک کې د اروپايي هېوادونو ترمنځ د ملاتړ پر مکانيزم، د بحرانونو پر مديريت او د اروپا پر پولو د کډوالو د دوسيو پر ارزونې ټينګار شوی دی.

دا هم ولولئ
سږ کال په اروپايي ټولنې کې له يو ميليون څخه ډېر د پناه غوښتنې ثبت شوې

تمه ده چې دغه هوکړه ليک د اروپايي شورا او اروپايي پارلمان له خوا تاييد يا رد شي. د اروپا د پولې ساتنې ادارې يا فرانتکس له مخې، د ۲۰۲۳ په ۱۱ مياشتو کې تر ۳۵۰ زرو زياتو کډوالو ځانونه اروپايي ټولنې ته رسولي دي چې دا شمېرې د پخوا په پرتله ۱۷ کلنه ډېروالی ښيي.

## کشتی نجات «سی آی» به مکانی برای تامل و یادگیری در نورنبرگ تبدیل می شود

مهاجرنیوز




یک گروه ابتکاری قصد دارد یک کشتی نجات پناهجویان را به مکانی برای تامل و یادگیری تبدیل کند .این کشتی به سازمان «سی آی» تعلق دارد و دیگر قابل استفاده نیست .

»سی آی» در شبکه اجتماعی «اکس «(توییتر سابق) اعلام کرد: گروه ابتکاری «یک کشتی برای نورنبرگ» می خواهد با »سی آی» یک بنای یادبود ایجاد کند و موضوع «فرار از طریق بحیره مدیترانه «را به زندگی روزمره وارد کند.

گوردون ایسلر، رئیس «سی آی» روز دوشنبه به خبرگزاری پروتستانت «ای پی دی» گفت: «در صورتی که این کشتی به یک مکان ویژه تبدیل شود، ما بسیار خوش می شویم«.

براساس تصور این گروه ابتکاری در نورنبرگ، قرار است که این کشتی نجات سابق در چارچوب کارهای آموزشی به مردم کمک کند که با موضوع «فرار و مهاجرت» آشنا شوند و در مورد آن فکر کنند.

بیشتر بخوانید :نجات بیش از ۱۰۶ مهاجر از آب های مدیترانه

در وب سایت گروه نامبرده آمده است، هدف از این کار این است که وجهه نورنبرگ به عنوان شهر حقوق بشر تثبیت شود.

شخصیت هایی مانند الیزابت هان فون وی هرن، اسقف محلی پروتستانت در نورنبرگ، یوآخیم هامبورگر، رئیس جامعه مذهبی اسرائیلی و اشتفان دول، رئیس ائتلاف برعلیه راستگرایی افراطی و همچنین کارل فریلر، مدیر بنیاد بناهای یادبود در بایرن از این مفکوره حمایت می کنند.

## بازداشت 99 مهاجر افغان از سوی پولیس ترکیه

رادیوکلید

پولیس ترکیه در ادامه روند بازداشت مهاجران غیرقانونی، این بار 99 مهاجر افغان را بازداشت کرده است



رسانه‌های ترکیه گزارش داده‌اند که این افغان‌ها به دلیل نداشتن اسناد قانونی، در شهر ارزانجان آن کشور دستگیر شده‌اند.

به گفتهٔ منبع، این مهاجرین در حال سفر بازداشت شده‌اند و جزئیات بیشتر در این رابطه ارائه نشده است.

**مهاجرین افغان همواره تلاش کرده‌اند تا از طریق ترکیه خود را به کشورهای اروپایی برسانند.**

**گفتنی است که در این اواخرا هزاران افغان در ترکیه دستگیر و به افغانستان بازگردانده شده‌اند.**

## نجات 726 مهاجر از دست قاچاقچیان انسان در مکزیک

صدای ترکیه



**726مهاجر از جمله 75 کودک توسط نیروهای امنیتی نجات یافته و 4 قاچاقچی انسان بازداشت شدند**

**726مهاجری که توسط قاچاقچیان انسان در انبار نگهداری می‌شدند در ایالت تلاکسکالا مکزیک نجات یافتند.**

**طبق اخبار منتشره در رسانه‌های مکزیکی، پلیس عملیاتی را در رابطه با مهاجرانی که به زور در انباری در شهر سن آنتونیو کواکسومولکو در این ایالت نگهداری می‌شدند، انجام داد.**

**726مهاجر از جمله 75 کودک توسط نیروهای امنیتی نجات یافته و 4 قاچاقچی انسان بازداشت شدند.**

**در اطلاعیه دبیرخانه امنیت شهروندان، گزارش شده است که مهاجران اتباع گواتمالا، هندوراس، السالوادور و نیکاراگوئه هستند.**

**بر این اساس مشخص گردید که مهاجران بدون آب و اکسیژن مانده‌اند و برخی از این افراد تحت درمان قرار گرفتند.**